د شلمې پېړۍ په دویمې نیمايي کې

# د پښتو ادب د پرمختیايي بهیر څېړنه

څېړنپوه سید نظیم سیدي

د پښتو ادب د پرمختیايي بهیر څېړنه
د شلمې پېړۍ په دویمې نیمايي کې

څېړنپوه سید نظیم سیدي

# STUDY OF THE PASHTO LITERATURE'S PROGRESS DURING THE 2ND HALF OF THE 20ST CENTURY

Professor Sayed Nazim Sayedy

ISBN 978-9936-661-75-2

2023

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

د ادبیاتو او متنپوهنې څانګه


## د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې

# د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه

((۱۹۵۱- ۲۰۰۰ زېږدیز))


څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه

((د څېړنپوه علمي رتبې ته د ترفیع اثر))

**لیکوال:** څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

**لارښود استاد:** څېړنپوه نصرالله ناصر

**ایډېټ او اهتمام:** څېړنپوه محمد اصف احمدزی

**ډیزاین :** محمد مجتبی همایون

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** ۱۴۰۲ ل/۱۴۴۵هـ.ق

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ۲- ۷۵- ٦٦١- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د لارښود استاد نظر ........................................ أ
تقریظ........................................ ه
تقریظ........................................ ط
تقریظ........................................ ل
تقریظ........................................ ق
سریزه ........................................ ۱

## لومړی څپرکي

**د موضوع شالید ........................................ ۹**

## دویم څپرکی

**د شلمې پېړۍ د دویمې نیمايي د سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي حالاتو څېړنه ........................................ ٤۹**

الف) سیاسي حالات........................................ ٤۹
۱- د محمد داود خان د صدارت دوره (۱۹۵۳- ۱۹٦۳زېږدیز) ........................................ ۵۰
۲- د ډاکټر محمد یوسف د صدارت دوره (۱۹٦۳- ۱۹٦۵ز) ........................................ **۵۵**
۳- د محمد هاشم میوندوال د صدارت دوره (۱۹٦۵- ۱۹٦۷ز) ........................................ **٦۱**
۴- د نور احمد اعتمادي د صدارت دوره (۱۹٦۷- ۱۹۷۱ز)........................................ **٦۷**
۵- د ډاکټر عبدالظاهر د صدارت دوره (۱۹۷۱- ۱۹۷۲ز) ........................................ **۷۲**
٦- د محمد موسی شفیق د صدارت دوره (۱۹۷۲- ۱۹۷۳ز) ........................................ **۷۵**
ب) ټولنیز حالات ........................................ ۸۲
۱- د داود خان د صدارت پر مهال ټولنیز حالات........................................ ۸٤
۲- د ډاکټر محمد یوسف د صدارت پر مهال ټولنیز حالات ........................................ **۸۹**
۳- د محمد هاشم میوندوال د صدارت پر مهال ټولنیز حالات ........................................ ۹٤
۴- د نور احمد اعتمادي د صدارت پر مهال ټولنیز حالات ........................................ **۹۸**
۵- د ډاکټر عبدالظاهر د صدارت پر مهال ټولنیز حالات ........................................ **۱۰۱**
٦- د محمد موسی شفیق د صدارت پر مهال ټولنیز حالات........................................ **۱۰٤**
ج) فرهنګي حالات ........................................ **۱۰۹**
۱- د محمد داود خان د صدارت پر مهال فرهنګي حالات ........................................ ۱۱۰

۲- د ډاکټر محمدیوسف د وخت فرهنګي حالات ........................ ۱۱۷
۳- د محمد هاشم میوندوال د وخت فرهنګي حالات ........................ ۱۲۱
۴- د نور احمد اعتمادي د وخت فرهنګي حالات ........................ ۱۲٤
۵- د ډاکټر عبدالظاهر د وخت فرهنګي حالات ........................ ۱۲۸
٦- د محمد موسی شفیق د وخت فرهنګي حالات ........................ ۱۳۱
د سردار محمد داود واکمني (۱۹۷۳ جولای – ۱۹۷۸ز)........................ ۱٤۰
الف) سیاسي حالت ........................ ۱٤۰
ب) ټولنیز حالت ........................ ۱٤۷
ج) فرهنګي حالت ........................ ۱۵۲
د ۱۳۵۷ کال د غویي د اوومې کودتا (۱۹۷۸ز)........................ ۱۵۸
الف) سیاسي حالت ........................ ۱۵۸
ب) ټولنیز حالت ........................ ۱۷۳
ج) فرهنګي حالت ........................ ۱۸٤
د ډاکټر نجیب الله واکمني (۱۳٦۵ لمریز-ثور- ۱۳۷۱ وری) ........................ ۱۹۰
الف) سیاسي حالت ........................ ۱۹۰
ب) ټولنیز حالت ........................ ۱۹۵
ج) فرهنګي حالت ........................ ۲۰۰
د مجاهدینو حکومت (۱۹۹۲ اپریل) ........................ ۲۰٦
الف) سیاسي حالت ........................ ۲۰٦
ب) ټولنیز حالت ........................ ۲۱۹
ج) فرهنګي حالت ........................ ۲۲۵
د اسلامي امارت لومړۍ واکمني (۱۹۹۴ – ۲۰۰۱ز) ........................ ۲۲۹
الف) سیاسي حالت ........................ ۲۲۹
ب) ټولنیز حالت ........................ ۲۳۹
ج) فرهنګي حالت ........................ ۲٤٦

**درېیم څپرکی**

**د وخت په اساسي قوانینو او رسنیو کې د پښتو ژبې دریځ........................ ۲۵۱**

۱-د وخت په اساسي قوانينو کې ........................................ ۲۵۱
الف) د ۱۳۴۳لمريز کال په اساسي قانون کې ............................ ۲۵۱
ب) د سردار محمد داود خان د مهال په اساسي قانون کې (۱۳۵۵ لمريز کال)......... ۲٦٤
ج) د ببرک کارمل د مهال په اساسي اصولو کې (۱۳۵۹ لمريز کال).................. ۲٦۹
د) د ډاکټر نجيب د مهال په اساسي قانون کې (لومړی ځل.......................... ۲۷۸
۲-د وخت په رسنيو کې................................................ ۲۸٦
الف) په دولتي رسنيو کې د پښتو ژبې او ادبياتو حالت.............................. ۲۸۷
ب) په ازادو رسنيو کې د پښتو ژبې او ادبياتو حالت................................ ۳۳۱


## څلورم څپرکی


**د شلمې پېړۍ په دويمې نيمايي کې د پښتو ادب د صعودي او ............................ ۳۷۱**
لومړۍ برخه ...................................................................... ۳۷۲
۱-د شلمې پېړۍ په دويمې نيمايي کې په پښتو ادب کې د ترسره شوي کار څېړنه..... ۳۷۲
الف) د پښتو د شفاهي ادبياتو د ټولونې او څېړنې بهير ته لنډه کتنه ....................... ۳۷۳
ب) پښتو ادب ته د نوو ژانرونو د راتګ څرنګوالی او پر دغه ادب يې اغېزې ................. ٤۰۸
۱-د نثر په برخه کې (منثور ژانرونه).................................................... ٤۱۱
۱- لنډه کيسه او پر پښتو ادب يې اغېزې ............................................ ٤۱۲
۲- پښتو ناول او رومان پښتني ټولنې ته څه ورکړل؟........................................ ٤۱۸
۳- پښتو ډرامې او فلم د پښتني ټولنې رښتينی انځور وړاندې کړی؟ ........................ ٤۲٦
۴-ايا ادبي راپورتاژ اوس هم مينه وال لري؟ ............................................ ٤۳۲
۵-طنز د شلمې پېړۍ د پښتو ادب مالګه برابره کړه ...................................... ٤۳۷
٦-ادبي ټوټه که د پښتون ولس رياليستيکه څېره................................................ ٤٤٤
۷-ادبي ځان پېښې د شلمې پېړۍ مخ پر ودې ژانر ........................................ ٤٤۹
۸-ادبي ژوندليک مخ پر ودې ژانر ........................................................ ٤۵۳
۹-ادبي ليکونه مخ پر ورکېدلو صنف ...................................................... ٤۵۹
۱۰-ادبي يونليک د ځينو سفرونو بهترين لارښود ......................................... ٤٦۳
۱۱-ادبي انځور مخ پر هېرېدلو ژانر............................................................ ٤۷۰
۱۲-تکل هغه صنف چې پښتو ادب يې ډېر کم د ليکلو تکل وکړ ........................... ٤۷٦

۱۳- ننداریک یا نمایشنامه د پښتني فرهنګ په زړه پورې صنف ........................ ٤٨٢
۲- د نظم په برخه کې (منظوم ژانرونه) ...................................................... ٤٩٦
۱- آزاد نظم ......................................................................... ٤٩٧
۲- مقید یا پابند نظم ........................................................... ٥٠٤
۳- نیمه آزاد یا معری نظم ........................................................ ٥٠٥
۴- سانېټ نظم .......................................................................... ٥٠٦
۵- ایا سپین شعر او ازاد نظم یو دي؟ ................................................ ٥٠٨
٦- ترانه د پښتو ژبې ټولمنلی صنف ................................................ ٥٠٩
۷- هایکو پښتو ادب ته ځانګړې رنګیني ورکړه....................................... ٥١٤
۸- ټپیزه د پښتو لنډۍ نوی فورم ................................................ ٥١٨
۹- ایا ټکوریزه هم د شلمې پېړۍ پنځونه ده؟ ........................................ ٥٢٤
۱۰- لنډکی شعر او د تاندېدلو هڅې يې................................................ ٥٢٦
۱۱- غزلیزه یو داسې صنف چې یوازې یې نوم پاتې شو........................................ ٥٣٠
دویمه برخه ...................................................................................................... ٥٤٥
د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د نامتو ادبي او فرهنګي څېرو پېژندنه، د اثارو شننه او ارزونه........ ٥٤٥
۱- د ځینو نومیالیو لیکوالو او شاعرانو پېژندنه او اثار ............................................ ٥٤٦
۱- سید رسول رسا (۱۹۱۰- ۱۹۹۰ز)....................................................... ٥٤٦
۲- د عبدالرؤف بېنوا لنډه پېژنه (۱۲۹۳- ۱۳٦۳ ل) ........................................ ٥٥١
۳- پوهاند صدیق الله رښتین (۱۲۹۸- ۱۳۷۷ ل)........................................ ٥٥٥
۴- علامه عبدالشکور رشاد (۱۳۰۰- ۱۳۸۳ل) ........................................ ٥٥٩
۵- څېړنپوه عبدالله بختانی خدمتګار (۱۳۰۴- ۱۳۹٦ل)........................................ ٥٧٢
٦- مهدي شاه مهدي (۱۹۲٦- ۱۹۹٦ز) ................................................ ٥٧٧
۷- محمد صدیق پسرلی د غزلبڼ شاعر (۱۳۰۷- ۱۳۹۲ ل)........................................ ٥٨٢
۸- سعد الدین شپون (۱۳۱۱- ۱۳۹٦ل) د پښتو داستاني ادب مالګه ور جوړه کړه ...... ٥٨٩
۹- کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي (۱۳۱۳- ۱۳۷۵ل) ........................ ٥٩٤
۱۰- پروفیسور محمد نواز طائر، د فولکلوري ادب لویه سرچینه (۱۹۳۴- ۲۰۱۷ز)...... ٥٩٨
۱۱- پوهاند مجاور احمد زیار د نوې ژبپوهنې بنسټګر ژوندی(۱۳۱۴ل) ............... ٦٠٢

۱۲- پروفیسور ولي محمد سیال کاکړ (۱۹۳۵ – ۲۰۲۲ز) ........................... ۶۰۹
۱۳- زیتون بانو (۱۹۳۸- ۲۰۲۱ز) ..................................................... ۶۱۵
۱۴- عبدالمنان ملګری (۱۳۱۹-۱۳۷۸ل) طناز لیکوال او تکړه ممثل .................. ۶۲۰
۱۵- حبیب الله رفیع، د پښتو ادب ژوندۍ اکاډمي (۱۳۲۴ ل)........................ ۶۲۵
۱۶- عبدالباري جهاني د منظومې داستاني شاعرۍ سرلارې څېره ... ................... ۶۳۴
۱۷- څېړنپوه نصرالله ناصر (۱۳۳۳ ل)............................................ ۶۴۱
۱۸- اسحاق ننګیال، ځوانیمرګ ریالیستیک شاعر (۱۳۳۵-۱۳۷۷ل)........................................... ۶۴۹
۱۹- محمد زرین انځور د معیاري کره کتنې خاموشه، خو پخه څېره... ................. ۶۵۴
۲۰- پروین فیض زاده ملال د داستاني ادب ملاله (۱۳۳۷ل)........................ ۶۶۱
۲۱- اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي (۱۳۳۷) ...................................... ۶۶۵
۲۲- ګل غوټۍ خاورې، د معاصرو ادبیاتو نوموتې څېړونکې (۱۳۴۰-۱۳۹۸ل) ........ ۶۷۴
د پښتو ادب د پرمختیا لپاره د علمي طرحې وړاندې کول ............................................... ۶۸۴
پایله ......................................................................................... ۶۹۷
وړاندیزونه ..................................................................................... ۷۰۱
مأخذونه ....................................................................................... ۷۰۳

# د لاربنود استاد نظر

## د شلمې پېړۍ په دویمه نیمايي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه
## (۱۹۵۱- ۲۰۰۰ م)

د هغه علمي ـ څېړنیز اثر سرلیک دی چې د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت، د ادبیاتو او متنپوهنې د څانګې علمي غړي څېړنوال سیدنظیم سیدي په قلم په A٤ (۴۴۹) مخونو کې له (۱٦۱) بېلابېلو مأخذونو نه په ګټنه زما په لارښوونه بشپړ شوی دی.

دغه اثر سریزه، څلور څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لري. لیکوال په سریزه کې له ځینو اړینو او مقدماتي توضیحاتو وروسته د څېړنې پر اهمیت او اړتیا خبرې کړي چې په ترڅ کې یې د خپل کار څېړندود هم ښوولی دی چې تر ډېره بریده توضیحي – تشریحي دی، خو د اړتیا پر مهال یې له انتقادي میتود څخه هم استفاده کړې ده.

لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی چې لیکوال د خپلې څېړنې په پایله کې ثابته کړې چې دا په دې برخه کې یو نوی اثر دی او تر دې دمخه داسې ورته اثر چې عین نېته، فهرست او منځپانګه دې ولري، نه دی لیدل شوی. ورپسې یې هغه «۳۹» اثره چې لیکوال ته مهم ښکاره شوي، معرفي او خپلې تبصرې یې هم ورسره ملې کړې دي. همدارنګه یې د اړتیا پر مهال د ادبي کره کتنې په تله هم تللي دي، نو ځکه یې یوه تشه پېژندنه، نه شو ګڼلی.

د دې اثر دویم څپرکی وروستي پنځوس کلونه چې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له واکمنۍ څخه د افغانستان د اسلامي امارت د لومړۍ دورې تر پایه موده په ځان کې رانغاړي چې لیکوال د دغې اوږدې زماني مقطع چې نږدې نهو تنو په کې واکمني کړې ده، سیاسي، فرهنګي، ټولنیز او اقتصادي حالات په بشپړ مسؤولیت له معتبرو او تر ډېره له لومړیو لاس منابعو څخه په استفاده د بېلابېلو سرلیکونو په ترڅ کې د علمي څېړنو له آرونو سره سم څېړلي چې د نوموړي دغه کار د ستاینې وړ دی، ځکه چې د یوه هېواد سیاست، اقتصاد او ټولنیز حالت، د هغه پر فرهنګ او ادب یې اغېزې نه وي، نو بویه چې لومړی دغه حالات ښه وڅېړل او حلاجي شي، نو دا به راته په ډاګه شي چې زموږ فرهنګ او ادب یې څومره اغېزمن کړی دی، مثبت اړخونه یې درانه دي او که منفي؟

د اثر ليکوال دغه څپرکی د موضوعاتو د تسلسل په پام کې نيولو سره په پوره حوصله مندی څېړلی، ښه ته يې ښه او بد ته يې بد ويلي چې بالاخره د دې څپرکي څېړنه يې په بې پرې توگه بشپړه کړې او له هغو اضافي او تکراري خبرو او تبصرو څخه يې چې څېړنه زيانمنوي او اذهان مغشوشوي، ځان ژغورلی دی.
دريم څپرکی د وخت په اساسي قوانينو کې د پښتو ژبې پر دريځ او هغې ته د واکمنانو، اړوندو علمي ـ څېړنيزو او فرهنگي بنسټونو او ټولنو د ونډې پر محور چورلي.
د هرې ټولنې اساسي قانون چې يو وصفي قانون دی، د نورو نافذو قوانينو مور گڼل کېږي چې د هغه په رڼا کې يا پر بله ژبه د اساسي قانون د بېلابېلو مادو په اتکا نور قوانين او تقنيني سندونه جوړېږي.
څېړنوال سيد نظيم سيدي د يادې پنځوس کلنې مودې اساسي قوانين، اساسي اصول او نور اړوند تقنيني سندونه په بشپړ مسؤوليت لوستي او تحليل کړي يې دي او بيا يې د پښتو ژبې دريځ په کې څرگند کړی دی. نوموړي د خپلې څېړنې دغه برخه هم لکه څنگه يې چې د تحقيق اصول ايجابوي په بشپړه بې طرفۍ په دقيقه توگه څېړلې او ارزولې ده او څه چې رښتيا دي هغه يې په ډاگه کړي دي. په دې ترڅ کې يې دا هم واضح کړې ده چې يواځې دا کافي نه ده چې يوه ژبه دې په اساسي قانون کې درج وي او په رسمياتو او ادارو کې دې لکه څنگه چې لازمه ده د هغې استعمال او کارونه يا هېڅ نه وي يا کمزورې وي، بلکې د دې ترڅنگ د چارواکو توجه هم ورته په کار ده، خو دا هم د هېرولو نه ده چې د ژبې ويونکي، په تېره بيا لوستي کسان او متخصصين هم بايد خپل مسؤوليتونه وپېژني او د ژبې د پياوړې کېدو او د عامېدو په لار کې هلې ځلې ونه سپموي.
د دې اثر د څلورم او وروستي څپرکي سرليک دی «د شلمې پېړۍ په دويمې نيمايي کې د پښتو ادب د صعودي او نزولي سير بررسي او د هغو د عواملو څېړنه»، په دې برخه کې ليکوال هغه موضوعگانې چې نېغ په نېغه د ده تر څېړنې لاندې موضوع سره تړاو لري او په حقيقت کې د دې اثر محور او هسته تشکيلوي، په خورا دقيقه توگه څېړلې ده.
دا څپرکی څو برخې لري چې يوه برخه يې د پښتو شفاهي ادبياتو د ټولونې او څېړنې بهير دی چې ليکوال په کرونولوژيکه بڼه پرې بحث کړی او د ادب دې برخې ته يې د څېړونکو، چارواکو او اړوندو فرهنگي بنسټونو پاملرنه اړينه بللې ده.
وروسته په هغو معاصرو ادبي ژانرونو بحث شوی چې د ژباړې له لارې يې پښتو ادب

ته لار موندلې ده، وروسته پښتو ژبې خپل کړي او زموږ لیکوالو او قلموالو هم په یوه نه یوه بڼه پنځولي دي، لکه: لنډه کیسه، ناول، طنز، ادبي ټوټه، ادبي انځور، ادبي یونلیک او نور...

پښتو ژبې ته د ژباړل شوو آثارو په ګټو او زیانونو تر بحث وروسته یې پر هغو منظومو او منثورو ژانرونو هم هر اړخیزې خبرې کړي چې په شلمې پېړۍ کې پښتو ادب ته راغلي یا هم دلته پنځېدلي دي. په دې برخه کې یې په ځینو هغو ژانرونو هم بحث کړی چې تر اوسه جلا ګڼل کېدل، خو اوس یې په اړه د شباهت او ورته والي خبرې کېږي. بله خبره دا ده چې ځینو یې لا اوس هم د ځانګړو ژانرونو په توګه خپل دریځ نه دی موندلی.

د څلورم څپرکي په دویمه برخه کې یې دوه ویشت تنه نومیالي لیکوال او لیکوالې معرفي کړي، په ژوند او آثارو یې غږېدلی دی، غوره خبره دا ده چې لیکوال په تشه معرفي بسنه نه ده کړې، بلکې د دوی ادبي او علمي فعالیتونه یې له عملي ـ څېړنیزو معیارونو سره سم ارزولي او په دې برخه کې یې د دوی د حق د ادا کولو ترڅنګ د موضوع حق هم ادا کړی دی.

بالاخره لیکوال د خپلې دې علمي – څېړنیزې رسالې په پای کې یوې په زړه پورې پایلې ته رسېدلی دی، د وړاندیزونو په وړاندې کولو او د مأخذونو په فهرست سره یې د خپلې څېړنې لمن را ټوله کړې ده.

زه د پورتنیو لنډو یادونو په پای کې خپلې خبرې را ټولوم او د نوموړي د لاربنود استاد په توګه خپل وروستی نظر په لنډو ټکو کې وړاندې کوم:

مخکې له دې چې د خپل نظر لنډیز وکښم یوه یادونه اړینه بولم هغه دا ده چې څېړنوال سید نظیم سیدي د خپل څېړنیز کار په شېږ کلنه موده کې له مقرراتو سره سم خپل تر سره کړي کارونه وخت په وخت ماته را سپارلي، له کتنې وروسته مې لازمې مشورې هم ورکړې دي چې دا دی له وروستي ځل لوستلو وروسته یې په اړه خپل نظر په لنډیز سره وړاندې کوم:

✍ لیکوال د څېړنې په مهال د لیکوالۍ ټول ارونه له خپل توان سره سم په پوره غور او دقت کارولي او د هغو پابند پاتې شوی دی.

✍ د سیمه ییزې لهجې پر ځای یې معیار غوره ګڼلی دی.

✍ د نورو محققینو او لیکوالو له آثارو څخه یې د استفادې پر مهال امانتداري په پام کې نیولې، د چا په لیکنه کې یې هېڅ ډول تصرف نه دی کړی، حتا په مستقیم نقل قول کې

يې هم د چا له املا سره غرض نه دی کړی.

✍ د محقق يوه مهمه دنده دا ده چې د څېړنې پر مهال ځان حقيقت ته ورسوي، په اصطلاح د موضوع حق لکه څنگه چې يې څېړنيز آرونه ايجابوي، ادا کړي. له نېکه مرغه نوموړي دغه اصل نه يواځې له پامه نه دی غورځولی، بلکې په ټينگه يې په پام کې نيولی او خپل اثر يې له منل شوو معيارونو سره سم بشپړ کړی دی.

✍ د رسالې د پای پر پايله او وړانديزونو سربېره يې د هر څپرکي په پای کې غوره نتايج او پيشنهادونه هم وړاندې کړي دي.

✍ په پای کې بايد ووايم چې ښاغلي سيدي «سيند په منگي کې ځای کړی دی» څکه چې پنځوس کاله لږ عمر نه دی، په دې پنځوسو کلونو کې چې د هېواد فرهنگ او په ځانگړې توگه پښتو ژبې او ادب ته کوم کار شوی، د دغو ټولو څېړل او ارزول څه اسانه کار نه وو، خو زما په اند نوموړی له دې چارې بريالی راوتلی دی.

زه د نوموړي د لارښود استاد په توگه د ده ترسره کړی کار تأييدوم او دغه حاضره رساله يې د څېړنوالۍ له علمي رتبې څخه د څېړنپوه علمي رتبې د لوړېدو (ترفيع) لپاره مناسبه او کافي بولم، په دې وسيله وړانديز کوم چې نوموړي ته د دې رسالې په بشپړولو سره د څېړنپوه علمي رتبه منظور شي، همدارنگه دا وړانديز هم کوم چې دغه اثر که د چاپ په گاڼه وپسولل شي، نو گټه به يې عامه شي.

په درنښت

څېړنپوه نصر الله ناصر

هوايي ډگر، ۲۷/ ۸/ ۱۴۰۱

# تقريظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د محترم ریاست د ٣٦٤/٧٣٩ ګڼه لیک چې د پښتو ژبې او ادبیاتو د انستیتوت د علمي غړي څېړنوال سید نظیم سیدي علمي - څېړنیزه پروژه «د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه» تر سرلیک لاندې د تقریظ په موخه رالېږل شوې وه، هغه مې په پوره غور او دقت سره وکتله.

په نړیواله او ملي کچه شلمه پېړۍ په تېره دویمه نیمایي یې د تخنیک له ګړندي پرمختګ سره سره د ډېرو بریاوو او غمیزو شاهده وه. په دغه پېر کې ځینې هېوادونه د استعمار له منګولو څخه خلاص شول، د زبر ځواکونو ترمنځ سړه جګړه پای ته ورسېده، زموږ په هېواد کې هم دوه پیاوړي زبرځواکونه روسان او امریکائیان په ګونډو شول، همدارنګه ځینې هېوادونه، لکه عراق، سوریه، لیبیا، یمن او افغانستان بیا د ډېرو ویجاړیو او وژنو سره مخامخ شول.

د دغې څېړنیزې پروژې لومړۍ برخه سیاسي حالاتو، آزادو رسنیو او لاریونونو په اړه ده، کوم چې د بېلابېلو صدراعظمانو د حکومتونو په بهیر کې رامنځته شوي. زه د دغو سیاسي نارو سورو او ګرمو مبارزو او لاریونونو پر مهال د ابن سیناء د لیلیه ښوونځي زده کوونکی وم، دغه سیاسي منډې ترړې زیاتره په لیلیه ښوونځیو او د پوهنتون په لیلیه کې روانې وې. د دغو لاریونونو موخې د ګوندونو د پالیسیو خپل شعارونه او د نړیوالو سازمانونو او سرچینو پیښې وې، هېوادني او ملي مسایل په کې خورا لږ تر سترګو کېدل. د لاریونونو د شعارونو د څو بېلګو یادونه کوم. کار کاریګر ته، ډوډۍ بزګر ته، جامې لوڅ لغړ ته، د نړۍ کارګرانو سره یو شئ، مرګ پر امپریالیزم، مرګ پر فیوډالیزم، د نړۍ کارګرانو سره یو شئ. د ښي اړخو لاریونونو شعارونه؛ مرګ پر کمونیزم ـ مړه دې وي د روس تالي څټي. ژوندی دې وي د ځوانانو اسلامي نهضت. هماغه مهال آوازه خپره شوه چې سید قاسم رښتیا د صدارت څوکۍ ته د پاچا له خوا ټاکل کېږي، پخوا تر دې چې د صدارت څوکۍ اشغال کړي پر لاریونونو کې د هغه پر ضد داسې شعار ورکول کېدلـ (دزد دیروز – وزیر امروز ـ وزیر امروزـ صدارعظم فردا ـ سید قاسم رښتیا).

د ملي مسألې په اړه یوازې د ډاکټر محمد موسی شفیق د صدارت پر مهال له ایران سره د اوبو د تړون په اړه څو لاریونونه تر سره شول. دغو لاریونونو د وخت د صدراعظمانو

سرونه خوړل، پاچا د خیر پر غونډۍ ناست و! په لاریونونو کې د صدراعظمانو پر ضد شعارونه ویل کېدل، خو د پاچا په اړه کوم شعار نه ورکول کېده او نه په مستقیمه توګه شاهي نظام ته ګوته نه نیول کېده.

د سیاست او سیاسي هڅو ډګر په ځوانو کړیو او محصلینو کې خورا ګرم و؛ خو د فرهنګي ژوند سطحه ډېره ټیټه وه، موږ د منځني ښوونځي زده کوونکي وو، د پوهنتون یو ځوان راته تبلیغ کاوه چې روسانو په افغانستان کې په عملي توګه د کمونیزم لپاره کار پیل کړی، د مکروریانو په نوم کورونه جوړوي چې داخلي دېوالونه یې له کاغذ څخه جوړ شوي.

د تعمیرونو اړخ ته یې دوه لوی دیګونه (د تېلو زېرمه) جوړ کړي چې په هغو کې شوروا پخوي او دا شوروا د نلونو په واسطه تر هره کوره رسېږي.

تاسې ورشئ او په خپله یې وګورئ، موږ همداسې وکړل، د جمعې په ورځ ولاړو که ګورو د هماغه محصل خبره رښتیا ده، دوه لوی دیګونه هم ول او د ځمکې پر مخ نوي درې لینه نلونه چې تور رنګ یې درلود، څو تعمیرونه چې نوي بشپړ شوي وو، تر هغو پورې رسېدلي وو. ګومان مو په یقین بدل شو. د کنجاوۍ له امله مو په خپلو منځو کې سره یاده کړه چې شوروا خو په نل کې رسېدای شوای دا غوښه او هډوکي بیا په نلونو کې نه بندېږي؟، چې زموږ فرهنګي کچه دومره ټیټه وه د نالوستو کلیوالو به څه اټکل کوئ.

د یو ولس او ملت چې د منځني ښوونځي د زده کوونکو فرهنګي کچه دومره ټیټه وي، نو هماغه مهال به یې د ادب او ادبیاتو حالت په کوم وضعیت کې وي؟ ګران لوستونکي اوس په خپله قضاوت کولای شي.

نو دا څېړنیزه پروژه هم پر همداسې مواردو په ترتیب سره په څلورو څپرکو کې بشپړه شوې چې لومړی څپرکی د موضوع شالید، دویم څپرکی د شلمې پېړۍ د دویمې نیمایي د سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي حالاتو څېړنه، دریم څپرکی د وخت په اساسي قوانینو او رسنیو کې د پښتو ژبې دریځ، څلورم څپرکی د شلمې پېړۍ په دویمه نیمايي کې د پښتو ادب د صعودي او نزولي سیر بررسي په دوو برخو کې تر څېړنې، تحلیل او ارزونې لاندې نیولې ده. په لومړۍ برخه کې د شلمې پېړۍ په دویمه نیمايي کې د پښتو ادب په اړه ترسره شوي کارونه، د پښتو ادب د شفاهي ادبیاتو له راټولونې څخه نیولې بیا د نثر په برخه کې د منثورو ژانرونو او منظومو ژانرونو په اړه ټول موضوعات او پرمختګونه په علمي ـ څېړنیزه توګه

ارزولي دي. کوم ځای کې چې د بشپړتیا او انتقاد خبره وه هغه یې نقد کړي هم دي، دویمه برخه یې د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د نامتو ادبي او فرهنګي څېرو پېژندنې او د آثارو شننې او ارزونې ته ځانګړې کړې ده، چې ورپسې د پښتو ادب د پرمختیا لپاره یوه ګټوره علمي طرحه وړاندې کوي. پایله، وړاندیزونه او مأخذونه د دغې علمي ـ څېړنیزې پروژې وروستنۍ برخه ده.

ښاغلي څېړنوال سید نظیم سیدي د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له دورې څخه د اسلامي امارت تر لومړۍ دورې پورې، ټول فرهنګي، سیاسي، ټولنیز او د اړتیا پر مهال اقتصادي حالات او په فرهنګ او ادب په تېره بیا پر پښتو ژبه او ادبیاتو باندې د هغو د اغېزو په اړه په حوصله مندی، پراخې جهان بینۍ د خپل پیاوړي قلم او تحلیل په برکت داسې ارزولي او تحلیل کړي چې د موضوع په اړه هیڅ کوم شی هم نه دی ترې پاتې، هر څه او هره مسأله یې د علمي کره کتنې په واسطه تول او ترازو کړې ده، چې دا هر اړخیز علمي کار او زیار یې د پښتو ادب په تېره بیا د پښتو ادبیاتو د تاریخ په اړه یو بشپړ اثر ګڼم او هغه تشه چې یو مهال محصلینو ادبي تذکره د ادبیاتو د تاریخ په نوم لوستله، د ادبیاتو یو بشپړ تاریخ یې رامنځته کړ او د خپل توضیحي، تشریحي او انتقادي څېړنیز مېتود په برکت یې د یو بې پرې لیکوال په توګه خپلې علمي ـ څېړنیزې ګروېږنې د اوسني او راتلونکي نسل په وړاندې د ادب او ادبیاتو ډګر ته را وړاندې کړې، چې خورا پر ځای کار دی او په دغه اړه یې دا ادبي تشه ډکه کړه.

پر پورتینو یادونو سربېره زه د دغې علمي څېړنیزې پروژې په اړه خپل نظر په لاندې ټکیو کې وړاندې کوم:

- د اثر د لیکنې ژبه خورا روانه او معیاري لیکدود په کې په پام کې نیول شوی.
- د مطالبو د تحلیل، توضیح او ارزونې چار یې مخاطب محور دی، په دې مفهوم چې لوستونکی دې ته هڅوي تر څو تر پایه مطلب ولولي او خپل مطلب ورڅخه ترلاسه کړي.
- د اثر د مطالبو په اړه پر تحلیلي او توضیحي مېتود سربېره یې په بې پرې توګه ټولو مسایلو ته د کره کتنې د اصولو پر اساس نظر څرګند کړی دی. دا کار د دغې علمي ـ څېړنیزې پروژې ابتکاري او نوښتي برخه نوره هم پیاوړې کوي.
- د موضوع ګانو د تشریح، تحلیل، لوړ او ځوړ پر مهال چې لیکوال ورسره مخامخ

شوی دی، موضوع یې تر هغې کچې پورې تعقیب کړې، ترڅو وروستنی واقعیت او اصلي موخې ته ځان ورسوي چې دا کار یې د قلم او نظر د پیاوړتیا څرګندونه کوي.

- له (۱۶۰) مأخذونو څخه ګټه اخیستل د اثر د محتوا د بډاینې معنا ورکوي.

- د موضوع د غټولو او پراخولو لپاره تکرار په کې نه لیدل کېږي، په ډېر پرمفهوم او لنډ تحلیل سره موخه تر لاسه کوي.

- د لیکوال د لیکوالۍ سبک ډېر خوږ دی، د اثر متن د یو خوږ داستان او کیسې متن ته ورته والی لري چې دا کار لوستونکی نه ستړی کوي، بلکې لا زیاتې لوستنې ته یې اړ باسي.

- د دغې پروژې د دفاع پر مهال به اورېدونکي د دغه څېړنیز اثر د پراخو مفاهیمو او د لوی زماني واټن له فرهنګي، سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي حالاتو څخه لا زیاته خبرتیا تر لاسه کړي. ما په خپل نظر کې د ټولو حالاتو له لنډیز څخه ډډه وکړه، ځکه وایي (مشک آنست که خود بوید، نه آنکه عطار ګوید).

د پورتینو ښېګڼو په یادونې سره زه د څېړنوال سید نظیم سیدي دغه علمي ـ څېړنیز کار بشپړ ګڼم او هغه د دې وړ بولم چې د څېړنپوه علمي رتبې ته وربانډې ترفیع وکړي او د دا شان نورو علمي بریاوو په هیله یې. په قلم او عمر دې یې برکت وي.

خیر مو په برخه شه!

په درنښت

څېړنپوه نعمت الله اندړ

څلورم مکرویان ـ کابل

## د لوی او بخښونکي خدای پر سپېڅلي نامه

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز محترم ریاست ته!

ستاسې د «۱۵- ۹- ۱۴۰۱ » نېټې د ( ۳۶۴ پر ۳۳۸) گڼه لیک په ځواب کې په خورا درنښت لیکل کېږي، چې ما د ښاغلي څېړنوال سید نظیم سیدي علمي - څېړنیزه پروژه (د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه) له پیله تر پایه په پوره غور او توجه ولوستله، چې په اړه یې خپل نظر په لاندې ټکو کې څرگندوم:

ادب او ادبیات د یو ملت د هویت او پېژندنې لپاره تر ټولو لومړي او مهم اصلونه دي، کومې ژبې او ټولنې چې ادب او ادبیات ولري، هغه ټولنې ژوندۍ ټولنې دي او چې ترڅنگ یې د ادبیاتو تاریخ ولري، نو هغه ټولنې بیا په اسانه نه مري، بلکې دوام یې تضمین وي، نو د ادب او ادبي تاریخ ارزښت د ملتونو په بقا کې تر ټولو مهم اصل شمېرل کېږي، چې په دې اړه د بېلابېلو ټولنو لیکوالو او څېړونکو په بېلابېلو وختونو کې خپلې هلې ځلې کړې دي او د خپلو ژبو ادبي برياوې او د ادبیاتو تاریخونه یې لیکلي دي، چې په دې برخه کې زموږ ځوان څېړونکي ښاغلي سیدي له دې وړاندې د پښتو ژبې د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي د پښتو ادب پرمختیایي بهیر څېړلی وو او دا دی اوس یې د هماغې سلسلې په دوام د شلمې پېړۍ د دویمې نیمایي د پښتو ادب پرمختیایي بهیر څېړنه هم بشپړه کړې ده چې دا په حقیقت کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د یوې پېړۍ تاریخ یا د تاریخ لیکلو لپاره ممد مواد دي، چې زموږ ځوان څېړونکي پرې خپلې خولې تویې کړي دي او د راتلونکو څېړونکو او لیکوالو او په ځانگړې ډول د یو مستند ادب تاریخ د لیکلو لپاره یې د بنسټ ډبرې ایښې دي.

د ادبیاتو تاریخ یوه داسې آئینه ده چې په مرسته یې د هرې ژبې د ویونکو او لیکوالو د ټولنیز او کلتوري روح انعکاس لیدلی شو. په ادب کې د یوې ټولنې کلتوري، سیاسي، ټولنیز او ژبني ټول اړخونه په رغنده ډول بیانېږي او د ادب تاریخ د دې ټولو تاثیراتو، چلندونو، اړیکو، تمایلاتو او اوصافو انځور دی. دا له سیاسي او اقتصادي شرایطو څخه تر اخلاقي ارزښتونو او ټولنیزو نورمونو او د بېلابېلو عمرونو او پروسو پورې اړه لري. هېڅ هنر او هنرمند د یوې ټولنې له اوسنیو شرایطو څخه نه شي جلا کېدای. لکه څنگه چې مؤرخ د خپل مهال د موجوده شرایطو او پېښو استازیتوب کوي. په همدې ډول یو ادبي مؤرخ د

خپل هنر او ادب له لارې د ټول ټولنیز جوړښت استازيتوب کوي. ادبي مؤرخ هم د نورو مؤرخينو په څېر د خپل مهال ټولنيز ارزښتونه او د اوسنيو تمايلاتو په اړه پراخه مطالعه لري او د دې مطالعې په آئينه کې توکي او شيان ويني او تجزيه کوي يې. ښاغلي سيدي چې د پښتو ژبې او ادبياتو د اوسني پېر يا د شلمې پېړۍ د دويمې نيمايي کومه ادبي څېړنه موږ ته وړاندې کړې ده، دا په يقينې ډول د پښتو ژبې د نيمې پېړۍ ادبي - تاريخي انځور دی، چې د خپل ځانګړي څېړنيز ذوق له مخې يې د مسايلو دقيقه څېړنه او شننه کړې ده.

دا علمي څېړنيزه پروژه خپل ځانګړی علمي ادبي او تاريخي ارزښت لري، ځکه شلمه پېړۍ د نړۍ په کچه د حوادثو او پرمختګونو پېړۍ ده، په ځانګړي ډول ادبياتو په همدې پېړۍ کې زياته وده او پرمختګ کړی دی او پښتو ادبياتو زيات تياره اړخونه خو د شلمې پېړۍ په ترڅ کې رابرسېره شول، چې همدا پېړۍ د پښتو ادبياتو په وده او پرمختګ کې د ځانګړې يادونې وړ ده. که پښتو ادب او ادبي فنپارو د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې سر راپورته کړی دی، نو په دويمه نيمايي کې يې د ارتقا او پرمختګ پړاوونه وهلي دي، نو لازمه وه چې د دې پېړۍ دقيقه څېړنه شوې وای چې له نېکه مرغه ښاغلي سيدي په دوه بېلا بېلو پروژو کې دا درونд کار په دقيقه توګه څېړلی او د دې دورې ښېګنې او بدګنې يې د راتلونکو څېړونکو مخې ته ايښې دي، چې په ګانده که د پښتو ژبې او ادب د همدې مهال د سيستماتيک ادبي تاريخ د ليکلو لپاره ښه مواد لري.

څېړنوال سيد نظيم سيدي د خپلې څېړنيزې پروژې نظم او ترتيب او د څېړنيزو موادو تحليل او تجزيه په سمه توګه ترسره کړې ده، هغه خپل څېړنيز مواد د څېړنې له اصولو او پرنسيپونو سره سم تجزيه او تحليل کړي او د څېړنيزې پروژې ترتيب، د لويو او کوچنيو سرليکونو سمون او برابري ته يې پوره پوره پاملرنه کړې ده او د پښتو ادب د شلمې پېړې د دويمې نيمايي ادبي، علمي او فرهنګي برياوې او پرمختګونه يې په هر اړخيزه توګه تحليل کړې دي او د دې دورې لاسته راوړنې او نيمګړتياوې يې په پوره ځيرکۍ بيان کړې دي.

دا علمي ـ څېړنيزه پروژه د علمي ميتودونو او معيارونو په پام کې نيولو سره ليکل شوې ده او له ډېرو باوري او لومړي لاس منابعو او سرچينو څخه په کې ګټه اخيستل شوې ده او د څېړنيزو موادو په تحليل او تجزيه کې د نورو څېړونکو د نظرياتو ترڅنګ ښاغلي سيدي خپل نظر هم څرګند کړی دی چې دې کار د څېړونکي څېړنې ته ځانګړی علمي قوت او ارزښت ورکړی دی.

څېړونکي د خپلې علمي- څېړنيزې پروژې ټول مواد له ځانګړي نظم او تسلسل سره ډلبندي کړي دي چې منطقي تسلسل په کې په پام کې نيول شوی دی، په څېړنه کې يې انسجام او د څېړنې ټول معيارونه په سمه توګه مراعات کړي دي، اضافي مواد او بې ځايه حاشيه روي يې نه ده کړې، د دې تر څنګ يې د څېړنې ژبه روانه او د عامو خلکو د پوهېدنې وړ ده. ژبنيو نورمونو او اصولو ته يې پوره پوره پاملرنه کړې ده او د ليکوالۍ اصول او قواعد يې په سمه توګه په پام کې نيولي دي.

که د دې څېړنيزې پروژې په اړه هر څومره خبرې وشي بيا هم کمه ده، خو زه د خپلو خبرو په پای کې دا علمي څېړنيزه پروژه ګټوره او له هره اړخه مثبته ارزوم او د څېړنيزو معيارونو په پام کې نيولو سره يې په ټول پوره او معياري څېړنه ګڼم، علمي اړخ يې تأييدوم او ښاغلی سيد نظيم سيدي د دې علمي- څېړنيزې پروژې په بشپړاوي سره د څېړنوال له علمي رتبې څخه د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي وړ او مستحق بولم. د علومو اکاډمي لوړو او اړوندو مقاماتو ته وړانديز کوم، چې که چېرې څېړونکي د علمي ترفېعاتو د مقررې او لايحې سره سم د ترفېع نور شرايط پوره کړي وي، نو نوموړي ته دې د څېړنپوه علمي رتبه منظور کړل شي. د دې ترڅنګ زه د دې علمي- څېړنيز اثر د چاپ وړانديز هم کوم، که چېرې دا اثر چاپ کړل شي، نو د دې اثر ګټه به عامو لوستونکو او د پښتو ژبې او ادب مينه والو ته هم ورسېږي. په پای کې ښاغلي سيد نظيم سيدي ته په علمي او څېړنيزو چارو او د ژوند په ټولو برخو کې د لا برياوو غوښتونکی يم، پر متو او قلم يې برکت شه.

په ادبي مينه
څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکيب
د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز رئيس

# تقریظ

زما ښه په یاد دي هغه وخت چې زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پـوهنځي د پښـتو ژبـې او ادبیاتو په څانګه کې محصل وم له خپلو استادانو څخه مو د ادبیاتو ډېر تعریفونـه اورېـدلي وو، خو یو تعریف یې چې تر اوسه پورې مې پـه حافظـه او ذهـن کـې پـروت دی او خـدای(ج) شـته چې زمـا پـه زړه لګېـدلی دی داسـې و، چـې: «ادبیـات هغـه ټـولنیزه موسسـه ده چـې اجتماعـي واقعیتونه سپیني او څېړي یې». پورتنۍ پېژندنه دا جوتوي چې ادبیـات د ټـولنې سره پخـه اړیکـه لري او هیڅکله هم له ټولنې څخه نه شي پـه ډډه کېـدای. ټـولنیز عوامـل او لاملونـه د ادبیـاتو پـه سوروره او ستره ورشو باندې اغېزه کوي. ادبیات د خپلې پراخې لمنې پـه ژیـو او ګوټونـو کـې دا لاملونه ځایوي، خو د ښېګڼو او بدګڼو اغېزې یې د اصولو له مخې په بېلابېلو ژانرونو کې د رښـتیا او حقیقت په تله تلي.

زموږ له منځه ځوان لیکوال او څېړونکي څېړنوال دوکتور سید نظیم سـیدي دې درنـې چارې ته اوږې ورکړې او د شلمې پېړۍ په دویـمې نیمایي کې یې د پښـتو ادب پرمختیـایي بهیر څېړلی دی. نوموړي خپله څېړنیزه ـ علمي رساله په څلورو څپرکو کې خوندي کړې ده چې زه یې د هرې برخې (څپرکـي) د منځپـانګې او اهمیـت پـه اړه د خپـل تـوان تـر کچـې پورې غږېږم:

ده د موضـوع د شـالید د برخـې مـواد او سرچینـې پـه ترتیـب سره راوړي دي او هغـه سرچینې یې چې استفاده یې ورڅخه کړې ده په ډېر ښه ډول معرفي کړې او محتوا ته یې په ژوره توګه پاملرنه کړې ده. په کومو برخو کې چې لیکوال یا محقق حقایق مسخه کـړي دي نوموړي د انتقاد ګوته ورته نیولې ده او په رښتیني ډول یې نقد کړي دي. داسې کړنه د ولس له ویښولو سره پوره مرسته کوي او نور محققین دې ته هڅوي چې د واقعیتونو خوا ونیسـي او خلک او ولسونه لـه ګمراهـۍ او تبـاهۍ څخـه وسـاتي. د حقـایقو مسـخه کـول ټـولنیزې ستونزې زېږوي او د پرمختګ پر ځای وروسته پاتې‌والي ته لاره خلاصوي. دا باید یاده کړم چې د دې څېړنیزې- علمي رسالې لیکـوال د شـالید د څپرکـي مـواد او منـابع پـه دقیـق ډول کتلي، ښې او بدې خواوې یې په مدلل ډول سره بېلې کړې او نیوکې یې په حقایقو بناء دي، زه د ده د حق پالنې ننګه کوم او زړورتیا یې ستایم.

د رسالې دویـم څپرکی د شلمې زېږدیـزې پېـړۍ د دویمـې نیمایـي ټـولنیز، سیاسي او

فرهنگي حالات څېړي. دا برخه یا څپرکی د سیاسي حالاتو په تحلیل سره پیل شوی او د هغو اشخاصو د ماموریت له دورې سره سرخوري چې د صدارت او کابینو مشري یې کوله. په دې برخه کې د هر یوه صدراعظم د صدارت دوره په رښتیني ډول راپېژندل شوې او کړنې او فعالیتونه یې بې پرې منل شوي او نقد شوي دي. زموږ لپاره په مسلکي لحاظ د هر یوه صدراعظم د دورې د فرهنگي حالاتو څېړنه د پاملرنې وړ ټکی دی. د دې څېړنیزې-علمي رسالې لیکوال دا اړین ټکي له پامه نه دي غورځولي، پاملرنه یې ورته کړې او ښه یې جوت کړي دي.

زما په اند خو د لیکوال او څېړونکي دریځ پوره په حقه دی، ځکه چې د حق او عدالت په سپینه سپېڅلې لار روان دی، زه یې د رښتیني څېړنې قدر کوم. نوموړي د پاچا محمد ظاهرشاه د پاچایۍ دوره په تفصیل سره څېړلې، ښېگڼې، بدگړې او نیمگړتیاوې یې په رښتیا په گوته کړې دي، دا لړۍ یې له محمد ظاهرشاه وروسته پسې غځولې او د هغه د هرې کړۍ کړنې یې په رښتیني ډول جوتې کړې دي، په دې څپرکي کې له نورې نړۍ سره په اړیکو باندې ښې خبرې شوې چې په واقعیتونو باندې ولاړې دي، د لیکوال د څېړنیزې - علمي رسالې دا څپرکی که سړی له حق څخه تېر نه شي خپله د یوې بېلې رسالې محتوا لري او که سړی یې د لړو ټکو یادونه هم وکړي د یوې رسالې جوله خپلوي، نو زما په خیال ښه خبره دا ده چې ټوله څېړنه په خپله له پامه او سترگو تېره شي، ځکه چې د تقریظ تر سرلیک لاندې یادونه یې حق نه شي پوره کولای.

دریم څپرکی د وخت په اساسي قوانینو او رسنیو کې د پښتو ژبې دریځ تر سرلیک لاندې پیل شوی. د دې څپرکي برخې (جزئیات) د ۱۳۴۳ل کال د اساسي قانون له چوکاټ څخه شروع کېږي. دلته تر هر څه لومړی د پښتو ژبې د متن پېچلتیا ته گوته نیول شوې ده. زه د لیکوال دغه پاملرنه د ده ځانگړې ځیرکتیا بولم، ځکه د متن پېچلتیا په مفاهیمو باندې د پوهېدلو مخه ډب کوي او چې مخه یې ونه نیوله شي د متن په مطلب او محتوا باندې پوهېدل ناشوني دي. په مسایلو باندې د پوهېدو په غرض د ولس او ټولنې د پوهې کچې ته پاملرنه کول لومړی شرط دی. حکومت یا یو نظام مسئولیت لري چې له ولس سره په داسې ژبه پوهاوی را پوهاوی وکړي چې یو څه ترې واخلي نه دا چې زړه تورن یې کړي.

کله چې یوه ټولنه د یوه اساسي قانون په چوکاټ کې راونغاړل شي معنا یې دا ده چې ټولنیز ژوند او موجود دولت او حکومت ټول د انسجام مسیر ته ور داخلېږي او د اساسي

قانون غوښتنې عملي کېږي. د وخت د قانون ۱۴مه او ۲۵مه ماده د هېواد د رسمي ژبې پښتو په زده‌کړه او کارونې باندې ټینګار کوي، خو که له واقعیته تېر نه شو په دې برخه کې تر غیرو خپله پښتانه هم مسئول وو، ځکه نه یې د قانون پروا کوله او نه یې د ژبپوهنې اصولو ته پاملرنه کوله. دوی له خپلې ژبې سره جفا کړې او دا په دې باندې شاهدي ورکوي چې دوی ټولنیز عدالت په زوروره په لغته وهلی دی او نه شي کولای چې په یوه یا بله پلمه ځان ته برائت ورکړي.

د دې څېړنیزې- علمي رسالې لیکوال په ډېره سړه سینه دا او دې ته ورته نور حقایق راسپړلي دي او هر اړخ یې داسې څېړلی دی چې موږ د حق منلو او له هغه څخه ملاتړ ته رابولي او سړی نه شي کولای چې نقد یې کړي، ځکه څنګه کېدای شي چې یو څوک «لمر په دوو ګوتو پټ کړي». د اثر لیکوال د پښتو ژبې د حق د ورکړې په غرض د وخت د اساسي قانون مندرج مواد یا ځینې مادې د نمونې په ډول راوړي او بیا یې په هماغه چوکاټ کې انالیز کوي. د ده شننه پر واقعیتونو ولاړه ده. د وخت د واکدارانو تور مخونه په رښتیا خلکو ته ورښیي او د هېواد له ملي او رسمي ژبې سره حساسیتونه او دښمني قانوني او علمي اصولو له مخې غندي. زه د ژبپوهنې د یوه زده‌کوونکي په توګه نه یواځې دا چې د ده شننه ستایم، بلکې بدرګه کوم یې.

لیکوال تر دې وروسته د محمد داود خان د جمهوریت په اساسي قانون باندې غږېدلی دی او د پرتلې له مخې یې دا ویلي دي چې د اساسي قانون په اړه د ده د فرمان املاء او انشاء ښه وه او داسې ډېر رقیق وییونه په کې نه لیدل کېږي چې پوهاوی پرې ګران وي. د اثر لیکوال دا یادونه کوي چې داود خان د ژبو مسألې ته دومره پاملرنه، نه کوله، علت یې دا و چې نوموړي نورو چارو ته مخ ور اړولی و. پښتو ژبه چې د محمد ظاهرشاه په وخت کې ملي او رسمي ژبه بلل شوې وه، د ده په وخت کې د دري ژبې ترڅنګ رسمي ژبه ونومول شوه. په دې برخه کې له پښتو ژبې سره ترسره شوی چلند په زړه پورې عمل نه دی او د محمد ظاهرشاه د وخت ورکړی حق هم ترې وتوړل شو. د داود خان په وخت کې پښتو مضامین، مقالې او نورې خپرونې یا نه چاپېدې او یا هم اړینې او رښتینې برخې ترې غورځېدې. د ده د وخت دا ډول کړنې په دې اثر کې نامناسب عمل بلل شوی دی، ځکه چې په اساسي قانون کې کړې څرګندونې او ژمنې په کې تر پښو لاندې شوې دي. لیکوال تر دې وروسته د ثور غمیزې د بېلابېلو مشرانو په اصولو کې حقوقي مسایل تر

پام تېر کړي دي، نوموړي د دې غميزې په اوږدو کې د هر يوه مشر د وخت کړنې ارزولې او د پښتو ژبې دريغ يې په گوته کړی دی.

د دې اثر ليکوال تر هر څه لومړی د ژبې يا د ژبو حالت ته متوجه شوی دی. دا پرېکړه يې هم وړه خبره نه ده، ځکه هر ډول فعاليتونه او کړنې د ژبې له لارې وړاندې کېږي او ښودل کېږي. که په دې اوږده لړۍ کې د ژبې حق اداء او يا تر ښو لاندې شي د حاکم نظام د چلوونکو درک، احساس او د ولسونو د حق ورکړه او يا غصب په کې منعکس کېږي او دا هغه څه دي چې د يوه ښه يا بد ذهنيت محصول بلل کېدای شي او کولای شي چې ټولنيز نظم ښه او يا يې گډوډ کړي. د دې اثر ليکوال چې د ببرک کارمل د دورې يا وخت په اړه خپله رښتينې څېړنه کې څه ويلي دي په واقعيتونو ولاړ دي او زموږ او ستاسو له منځه ډېر هغه کسان يو چې د ده د مشرتابه نااندرې او حق پالنه مو په خپلو سترگو ليدلې دي. ده (ببرک کارمل) يو پښتو ويې هم نه ويلای شو او نه يې زغملای شو. د خپرونو او ورځپاڼو له پښتو نومونو سره يې هم حساسيت لاره او نه يې شول هضمولای.

د دې څېړنيزې- علمي رسالې ليکوال لړۍ په ترتيب پسې غځولې او تر ده وروسته د ډاکټر نجيب الله په دوره کې همدغو ټولنيزو مسألو ته کتنه کوي، ليکوال د نورو مسألو له څېړنو څخه ډډه کړې، خو ژبه او ادبيات يې چې د دې څېړنيزې- علمي رسالې د ملا تير جوړوي په ژوره توگه ياد او څېړلي دي او همدغه ټکی د دې اثر لوړه څوکه ده، ډاکټر نجيب الله په پښتو ژبه ليکنه کوله او دا اړيکه يې پالله، خو د نظام په چوکاټ کې يې څنگه چې مناسبه وه هماغسې پاملرنه ورته نه ده کړې، ليکوال هم دا ټکی نه دی هېر کړی او پرې تم شوی دی. دی وايي چې ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ په وروستيو کې دې موضوع ته متوجه شوی و، خو وخت ترې تېر شوی و او څه يې د لاسه ونه شول. د دې څېړنيز- علمي اثر ليکوال د ژبو په اړه د حقوقو، پالنې، تعصب او...، په باره کې څېړنه او گروپېرنه را پيل کړې په هر رژيم او د هغه په هر اړوند پړاو کې يې د ژبپوهنې ډېرې اړينې موضوع ته نغوته کړې او په پرتليزه بڼه يې څېړلې او د ښو او بدو يادونه يې کړې ده، د ژبپوهنې دا برخه يا موضوع Rechtschreibung، Orthography يا سمه ليکنه ده. سمه ليکنه د موضوعاتو د پېژندلو، پوهېدلو او مناسب تشخيص لپاره اړين شرط دی. د اثر ليکوال د وخت په اساسي قوانينو کې د پښتو ژبې د حالت تر څېړلو وروسته د وخت په رسنيو باندې نظر اچولی دی او د ډلبندۍ په چوکاټ کې يې پيل له دولتي رسنيو څخه کړی

دی. یادونه یې کړې ده چې د مطبوعاتو پیلامه له ۱۸۷۲ز څخه پیل کیږي او باني یې افغـان سید جمال الدین دی. د دې په خوا کې د عبدالرحمن پـه وخـت کـې د رسـنیو حالـت یـاد شوی او ویل شوي دي چې د قیوداتو زولنې ور اچول شوې وې.

تر حبیب الله خان وروسته د اثر لیکوال د غازي امـان اللـه خـان د پاچـايي وخـت تـه گوري او د هغه علمي، فرهنگي او رسنیز فعالیتونه څیړي. د نادرخان د وخت کړنې یـې هـم ښودلې دي او د رسنیو او خپرونو په کمېدو او ډېرېدو یې مفصلې خبرې کړې. د ظاهرخـان د مطبوعاتو د موقتي قانون یادونه یې کړې ده او ویلې یې دي چې ازادو رسنیو ته موقـع پـه لاس ورغله او وخت ورکړ شو. د موجودو او نویو رسنیو د تأسیس کېدو د ښـودلو لـړۍ یـې هم له پامه نه دي غورځولې. په همدې ډول د اثر لیکوال د شـاه محمـود خـان د صـدارت د وخت او له ده څخه د راوروسته وخت دولتي خپرونو ته پـام کـړی، دا لـړۍ یـې پـاللې او د هرې خپرونې برید یې له نورو خپرونو سره د هغو موضوعاتو پر مټ بېل کړی چـې پـه کـې خپرېدل. په دې خپرونو کې ډېرې په پښتو او دري ژبو خپرېـدې، د گوتـو پـه شـمېر داسـې خپرونې هم وې چې په یوه ژبه به خپرېـدې؛ لکـه د وږمـې مجلـه، د زېـري جریـده، د ادب مجله، مهري د هرات د ادبي ټولنې درې میاشتنۍ خپرونه په دري ژبه او داسـې نـورې. بایـد یادونه وکړم چې د اثر لیکوال په هماغه وخت کې په ولایتونو کې خپرېدونکې خپرونې هم یادې کړې او نه یې دي هېرې شوې. د لیکوال دا کړنـه ډېـر ښـه عمـل دی او د تـوپیر هـیڅ بوی نه په کې محسوسېږي. د اثر د لیکوال له څېړنیزې- علمي لیکنې څخه ښکاري چـې لـه مرکز نه علاوه په ولایتونو کې هم مهالنۍ، ورځپاڼې او نورې رسنۍ خپرېدې، خو د خپرونـو په ژبه کې تعادل په پام کې نه نیول کېده. د دې یادونې مطلـب دا دی چـې د هغـو ولایتونـو خپرونې به چې پښتانه په کې اکثریت وو په دواړو ژبو پښتو او دري خپرېدې، مگـر لـه بـده مرغه د هغه ولایتونو خپرونې به چې نور قومونه په کې ډېر یا دا چې اوسېدونکي یـې نـورو قومونو ته منسوب وو، پښتو لیکنـې یـوازې پـه یـوه سرلیـک یـا یـوې نیمـې تبصرې پـورې منحصرې وې او بس. دلته د دوی ترمنځ د مور او میرې چال چلند کېده او په هیڅ لحـاظ د منلو وړ عمل نه و او نه دی، ځکـه حکـومتي یـا دولتـي خپرونـې کـه لـه هـر ولایـت څخـه خپرېدې باید چې ملي رنگ یې لرلی وای او تعادل پـه کـې پـه نظـر کـې نیـول شـوی وای. داسې منافقت نه علمي اصـل دی او نـه هـم داسـې کړنـه ده چـې وپالـل شي، څېړونکـي او لیکوال د ثور له بدلون نه را وروسته کړنې او فعالیتونه (په تېـره ادبي، فرهنگـي او مطبوعـاتي

خپرونې) ارزولې دي او په دلیل ولاړ نظر یې په دې اړوند هم وړاندې کړی دی او بې پرېتوب یې په رښتیا سره ساتلی دی.

تر دې وروسته یې د مجاهدینو د دورې دولتي مطبوعاتو ته مخ ور اړولی دی او د کړنو مثبتې او منفي خواوې یې ښې سمې شاربلې دي. د هیڅ لوري او طرف خوا یې نه ده نیولې، سپین ته یې سپین او تور ته یې تور ویلي دي. له دې نه وروسته د اسلامي امارت د لومړي حکومت لوري ته وګرځېدلی، د دوی امکانات او فرهنګي او ادبي فعالیتونه یې په ګوته کړي او د هغه وخت ټولنیز وضعیت یې څېړلی دی. ورپسې په ازادو رسنیو کې د پښتو ژبې او ادبیاتو حالت ته ورستون شوی دی. په پېښور کې د مېشتو او جوړو ګوندونو خپرونې یې ښې چاڼ کړې دي چې د پښتو ادبیاتو څېره په کې ښه انعکاس شوې او په اسانۍ یې په کې لیدلی شو. بیا یې په ایران کې د مېشتو شیعه ګوندونو فعالیتونه هم څارلي دي چې د پښتو ادبیاتو د خوند او رنګ پته ورڅخه لګېدای شي. د مجاهدینو رسنۍ هم له خپلې محتوا سره سمې د ژبې او ادب له اړخه ډېرې ژورې څېړل شوې دي او په ټوله کې د اثر له پیل څخه تر پای پورې سړی دې ته رابولي چې دا ارزښتمن اثر د کتاب په بڼه وګوري. د اثر لیکوال شخصي خپرونې چې په بهر او یا د هېواد دننه خپرېدې نه دي هېرې کړي او د هرې خپرونې ژبنی او ادبي اړخ یې ښه موږلی دی.

په څلورم څپرکي کې د دې څېړنیز- علمي اثر لیکوال د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د پښتو ادب صعودي او نزولي سیر بررسي او د هغو د عواملو څېړنې ته یې لاسونه ور اوږده کړي دي. د ادب هیڅ اړخ یې له پامه نه دی غورځولی. د لوستونکو د ښه پوهاوي په غرض یې پیل له شفاهي ادبیاتو څخه کړی دی. په لیکنیو ادبیاتو یې پوره بحث کړی او یو شمېر هغه پښتانه لیکوال او د دوی ادبي هڅې او کړنې یې یادې کړې چې د پښتو ژبې او ادبیاتو لمن یې یو څه ور ډکه کړې ده. د اثر لیکوال فولکلوریک اثار او خپرونې په ترتیب سره ډېر ښه راپېژندلي دي. دا کار په راتلونکې کې د نورو څېړونکو لپاره ښه سرچینه ده. دوی کولای شي چې د دې څېړنیز- علمي اثر په کتو سره نورې سرچینې په اسانۍ سره بیا مومي، د اثر لیکوال د فولکلوریکو سرچینو په ښودلو او د هغو محتوا ته په کتلو بانډې دومره ډېر تم شوی چې هیڅ وړې او دانه ترې پاتې نه دي، د ده کار ډېر ښکلی، صبر او زغم یې د قدر وړ دي. زه د ستړیا په بدل کې د زړه له تله کوروداني ورته وایم.

د اثر لیکوال له دې وروسته پښتو ادب ته د نورو ژانرونو د راتګ په څرنګوالي باندې غږېدلی دی دا برخه یې هم په ښه ډول نقد کړې ده او د پېژندنې په موخه یې ګټور معلومات ورسره ملګري کړي دي. هغه څوک چې په دې برخه کې کار کوي دغه اثر یې پوره لاربښودي کولای شي. لیکوال د ادبي دورو پښتو کتابونه او ژباړې ښودلې او د هرې ادبي دورې محصولات یې په ګوته کړي. د شلمې پېړۍ د دویمې نیمايي نامتو لیکوالان او شاعران یې راپېژندلي دي، پیل یې له سید رسول رسا څخه کړی او په استادې اروابښادې غوټۍ خاورې یې دا لړۍ پای ته رسولې ده چې شمېر یې له شلو څخه اوړي. د دوی پنځونې او ژباړې یې یادې کړې او خوږوالی او تریخوالی یې نه دي هېر کړي. د اثر لیکوال یوې ډېرې اړینې موضوع ته متوجه شوی دی چې هغه د پښتو ادب د پرمختیا لپاره د یوې علمي طرحې وړاندې کول دي؛ لیکوال د یادې موضوع په اړه په متن کې په خوږه ژبه غږېدلی دی. د متن محتوا ارزښتمن مواد لري، څکه نو زه د ده د څېړنیز - علمي اثر دا برخه د ډېرې ژورې پاملرنې وړ بولم او بایده دي چې چاره یې وکړو. دا چې لیکوال د خپلې ژبې او ادب د پیاوړتیا پوخ پلوی دی؛ نو په دې اړه یې وړاندیزونه هم کړي دي دا کار یې د ډېر قدر وړ دی. د لیکوال درک، احساس او درد هلته محسوس کېدای شي چې سړی کتاب ته سر ورټیټ کړي، په دوو کرښو کې یې یادونه بې انصافي ده. لیکوال خپل څېړنیز - علمي اثر په پایله، وړاندیزونو او سرچینو پای ته رسولی او په چمتو کولو کې یې ۱۶۱ سرچینې کتلې دي.

زه د دې اثر په اړه خپل نظر په شمېرو نه وېشم. خپله پرېکړه داسې وړاندې کوم چې:

څېړنوال دوکتور سید نظیم سیدي د څېړنپوهې د پوړ وړ او حقدار دی. زه مبارکي ورته وایم او د لوی خدای له درباره د نورو بریاوو هیله ورته کوم. زما په اند دا اثر د لوړو زده کړو په پوهنتونو او مؤسسو کې د تدریس له لړۍ سره ډېره پر ځای مرسته کولای شي، نو څکه د افغانستان د علومو اکاډمۍ له مشرتابه نه په درنښت هیله کوم چې د ژر چاپېدو تابیا یې ونیسي ترڅو ګټه یې عامه شي.

په درنښت

څېړنپوه مولاجان تنیوال

# تقریظ

**د ژبو او ادبیاتو د ریاست محترم مقام ته!**

ستاسې د ۱۴۰۱/۹/۵نېټې د ۳٦۴/۷۳۷ ګڼه لیک په ځواب کې لیکم چې ما د څېړنوال دوکتور سید نظیم سیدي «د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه» علمي- تحقیقي اثر تر پای وکوت او په اړه یې خپل نظر داسې څرګندوم:

د یو ملت ادب او د ادبیاتو تاریخ اړتیا او ارزښت له دې امله دی چې د یوې ژبې د ادب وده، پرمختیا او پراختیا او یا د هغه ټکنې کېدل د تاریخ د بهیر پر ځانګړو زماني واټنونو کې له سیاسي، ټولنیز او فرهنګي شرایطو او عواملو سره په اړیکه کې تر څېړنې لاندې نیسي، د دغه ارزښت له امله ادب تاریخ د زماني واټن په بهیر کې د یوه قوم یا ملت د ژوندانه د لوړو ژورو رښتینې هېنداره ګڼل شوې ده.

په همدې ترتیب د پښتو ادب لیکل شوي ادبتاریخونه چې تر دې مهاله لیکل شوي دي، د دوی کار او زیار د خپل وخت په چوکاټ کې د قدر او ستاینې وړ دی او د نن هره لیکنه د سبا لپاره نیمګړې ده، نو پر دې بنا هغو غوښتنو او پوښتنو ته چې له نړیوالو نورمونو سره څنګ لګوي سم ځواب نه شي ویلای، دا اثر هم په همدې موخې لیکل شوی چې هغه معیارونه په ګوته کړي چې د پښتو د نوي او جامع ادب تاریخ په لیکلو کې د یو مهم مأخذ په توګه ترې ګټه واخیستل شي.

دې موخې او هدف ته رسېدل هم څه اسانه خبره نه ده، څېړنوال سید نظیم سیدي چې د دغه مغتنم اثر په لیکلو کې کوم زیار او زحمت په ځان منلی دی د ډېر ارزښت او ستاینې وړ دی. نوموړي د نني ادب تاریخ لیکنې له اصولو او روشونو سره سم د دغې زماني مقطع ادبي ایجادیات او تمایلات له سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي حالاتو سره په اړیکه کې څېړلي دي او په ترڅ کې یې د پښتو ژبې او ادب د لوړو او ژورو اصلي لاملونه د روښانه بېلګو په راوړلو سره په ګوته کړي چې په دې توګه غواړي لوستونکي د ادبي، ژانرونو له اصلي ماهیت او ارزښت سره اشنا کړي چې د نني ادب تاریخ اصلي معیارونه هم د پورتنیو حالاتو او ارزښتونو له مخې اټکل کېدای شي.

تر کومه چې خبره د موضوع په اهمیت، ارزښت او جامعیت پورې اړه لري، زما له نظره د دغسې یوې پراخې او پېچلې موضوع څېړنه د څو کسیزې ګډې پروژې په توګه یې

ترسره کول لازم و، ځکه دا یوه داسې موضوع ده چې له یوې خوا زیات، زحمت او دقت غواړي او له بلې خوا د تخصص ډېرې ساحې هم راکېباسي، له نېکه مرغه لیکوال په دې برخه کې د پوره پوهې، بصیرت او تجربې خاوند دی چې د متن له حال او مقام له غوښتنې سره سم د اړوندې ساحې مفاهیم، ځانګړنې او اصطلاحات په پام کې ساتلي، چې د نوموړي د همېشنی مطالعې او علمي صلاحیت ځرګندویي کوي.

دغه څېړنیز اثر د لیکوال په (سریزه) چې په کې د دې څېړنې پر اړتیا، لنډې پېژندنې، د موضوع په اهمیت او مبرمیت خبرې کړي او د دې ترڅنګ یې د خپل کار میتود معرفي کړی دی، چې تشریحي، توضیحي او انتقادي دي او بیا په ترتیب سره په لومړي څپرکي کې، د موضوع (شالید) تر سرلیک لاندې هغه آثار د کره کتنې په ترڅ کې راپېژني چې په یو ډول نه یو ډول د دې اثر په بشپړولو کې ترې ګټه اخېستل شوې ده.

دویم څپرکی د یادې پنځوس کلنې مودې سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي حالاتو ته ځانګړی شوی دی، د دې حالاتو څېړنه د محمد ظاهر شاه له واکمنۍ څخه د افغانستان د اسلامي امارت د لومړۍ دورې تر پایه موده په بر کې نیسي. څېړونکي د دغو بېلابېلو دورو بېګڼې، نیمګړتیاوې، سرغړونې او انحصارونې په غور او دقت سره مطالعه کړي او هڅه یې کړې چې له علمي میتود سره سم خپل انتباهات او قضاوتونه په داسې توګه وړاندې کړي چې له هر ډول تعصب څخه لرې او پر حقایقو ولاړ وي.

دریم څپرکی د وخت په اساسي قوانینو کې د پښتو ژبې دریځ ته وقف شوی دی، د دې نیمې پېړۍ اساسي قوانین، اساسي اصول او نور تقنیني سندونه چې د بېلابېلو رژیمونو د غوښتنو او ارزښتونو ځرګندونکي دي، د تحلیلي څېړنې په ترڅ کې د پښتو ژبې ځرنګوالی او څومره والی په مناسب تفصیل سره ځرګند شوی دی.

د همدې څپرکي دویمه برخه په دولتي او آزادو رسنیو کې د پښتو ژبې او ادبیاتو حالاتو ته ځانګړې شوې ده چې د تېر په څېر دلته هم د پښتو ژبې دریځ په بېلابېلو پړاوونو کې د دغو رسنیو د لیدلوري له مخې په خورا دقت سره ارزول شوی دی چې د ژورنالیزم د برخې څېړونکو لپاره ګټور معلومات برابروي.

د دې اثر د څلورم او وروستي څپرکي سرلیک «د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د

پښتو ادب د صعودي او نزولي سیر بررسي او د هغو د عواملو څېړنه» دی.

دا څپرکی څو برخې لري چې په ترتیب سره لومړۍ برخه یې د پښتو شفاهي ادبیاتو د ټولونې او څېړنې بهیر دی چې د تحریري ادبیاتو ترڅنګ له شفاهي ادبیاتو څخه چې د پښتنو سیاسي، ټولنیز او فرهنګي ژوند په کې انعکاس موندلی دی، نو پر دې بنا د دې پرمختیایي بهیر په څېړلو او رابرسېره کولو کې ترې ډېره ګټه اخیستل شوې ده.

د دې بحث په نتیجه کې ویلای شو چې لیکوال د شفاهي ادبیاتو په بېلابېلو ژانرونو په تفصیلي توګه بحث کړی دی، چې د نوښت له اړخه د پاملرنې وړ دی.

ورپسې په هغو ادبي ژانرونو بحث شوی دی چې د ژباړې له لارې پښتو ادب ته راغلي او وروسته پښتو شوي دي، بیا د دغو ژانرونو پر ځانګړنو خبرې شوي او پر دې سربېره له نورو معاصرو نثري او ادبي ژانرونو سره یې توپیرونه او اړیکې ښودل شوي دي، د دې بحثونو په وروستۍ برخه کې یې په هغو ژانرونو بحث کړی دی چې ترمنځ یې ټاکل شوې ساحې یو په بل کې سره ګډې شوې دي. د دې تداخل د مخنیوي لپاره یې منطقي دلایل وړاندې کړي دي.

د څلورم څپرکي په وروستۍ برخه کې د پښتو ژبې نامتو ادبي او فرهنګي څېرې د خپلو ادبي، تحقیقي او هنري کمالاتو او بارزو خصوصیاتو له مخې غوره کړای شوي دي او په دې وسیله لوستونکي د دوی له فکري او ذهني ځانګړتیاوو سره اشنا کوي.

د دې څپرکي په پای کې پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو ببلیوګرافي سیستم هم راغلی دی. پر پورتنیو یادونو سربېره دا اثر نورې ځانګړتیاوې هم لري:

- د دې اثر موضوع مهمه، ضروري او څېړنې ته یې اړتیا وه.

- په څېړنه کې له معتبرو مأخذونو څخه ګټه پورته شوې او مأخذ ښودنه یې په علمي او اکاډمیکو اصولو برابره ده.

- په دې اثر کې د لیکوال د لیکنې عمده ځانګړتیا دا ده چې ژر او احساساتي قضاوت نه کوي او په بشپړه حوصله مندۍ سره واقعیتونه په منصفانه توګه وړاندې کوي.

- د دې علمي – څېړنیزې پروژې ګڼ موضوعات نوي او ابتکاري دي.

- څېړونکي د څېړنې په بهیر کې له فروعاتو او څنګزنو موضوعاتو څخه ډډه کړې او د اصلي مطالبو په څېړلو یې لاس پورې کړی دی.

- څېړونکی د موضوعاتو په تحلیل او څېړنه کې د پوره علمي صلاحیت خاوند دی.

پورتنیو یادونو ته په پاملرنه زه دغه اثر مثبت او گټور ارزوم او څېړنوال سید نظیم سیدي د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي وړ او مستحق بولم او لا یې په دغه ډول علمي چارو کې بریالیتونه غواړم او د عامې گټې اخیستنې لپاره د دې اثر د چاپ او خپرېدو وړاندیز کوم.

په درنښت

څېړنپوه عبدالشکور قیومي

د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د پښتنو قبایلو د انستیتوت آمر

# سریزه

یو مهال د پښتو ادب تاریخ او ادبي تذکرې د توپیرونو په اړه د بېلتون کرښې دومره سره نږدې شوې وې چې ډېر څله ځوان لیکوال او څېړونکي له مغالطې سره مخامخېدل، په دې معنا په ادب تاریخ کې سیاسي او ټولنیز حالات مهم ګڼل کېدل، خو دومره چې د څېړنې تومنه یې ور برابره کاندي، نور نو ټول د لیکوالو او شاعرانو معرفي او د هغوی د ځینو لیکنو او شعرونو د ځانګړنو بیانول وو چې دا هم کابو د سبک‌پوهنې او مکتب‌پوهنې کار دی، نه د تذکره لیکنې او ادب تاریخ لیکنې چې دغه ډول کار زموږ ادب تاریخونه ننګولي هم وو او ډېر څله یې د توپیر کرښې نه جوتېدې.

استاد حبیبي هم له دغه چار څخه ګیله‌من و او «د پښتو ادبیاتو تاریخ» اثر په سریزه کې یې دغه مسؤولیت ادا کړی هم دی، په ښکاره یې ویلي؛ چې ده دا اثر د اړتیا او اوسنیو غوښتنو پر اساس کښلی، خو طمعه ده چې د دې برخې څانګه‌وال چې بهر ته لاړ شي او له نوو علومو سره بېرته راشي دا ستونزه او تشه ډکه او د ادبیاتو یو داسې تاریخ ولیکي، چې په ټول تللی او له نویو معیارونو سره برابر وي، خو له بده مرغه کابو دېرش کاله وروسته یې بیا خپله همدا خبره د ګیلې په شکل تکرار کړه چې دغې ګیلې یې ډېر کار وکړ، د کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي او سرمحقق زلمي هېوادمل په ګډون ډېرو نورو ښاغلو د پښتو ادبیاتو تاریخونه وکښل چې هر یو یې د ځینو ارزښتونو په رڼا کې پښتو ادبیات په بېلابېلو ادبي دورو او پړاوونو ووېشل، خو په دغو دورو کې بیا هم د استاد روهي او هېوادمل وېش چې درې دورې او درې پړاوه او د ځینو په وینا څلور پړاوه دی، کابو ومنل شو. که څه هم استاد روهي دا وېش د یوې طرحې په توګه وړاندې کړی او هغه یې هم د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ټاکلی چې شوني ده د پوهنتون او څېړونکو په کچ دا طرحه یا بدله او یا هم څه ناڅه بدلونونه ولري، خو اوس د دغې لارې لارویانو اکثرو همدا طرحه منلې او پښتو معاصر ادبیات یې په دریو ادبي دورو او څلورو پړاوونو وېشلي چې په اړه یې ډېرې خبرې شوي، خو زما موخه ترې د ادبي تذکرې او ادب تاریخ جلاوالی دی چې له ښه مرغه د سرمحقق روهي او سرمحقق هېوادمل اثار یې ښه زباتونه ده.

اوس پوښتنه دا ده ایا سیاسي، ټولنیز او اقتصادي بدلونونه هم د ادب تـاریخ پـه دورو او پړاوونو کې رول لري او که نه؟

بې له شکه د ګڼو لاملونو ترڅنګ د ادبیاتو د دورو او پړاوونو په بدلون کې دغه موارد زیات مهم او ارزښتمن دي او همدا مسایل دي چې فرهنـګ او ادب تـه نـوی لوری ورکوي. موږ چې کله هم په درېیمې ادبي دورې کې څلور پړاوونه او یا د ځینو پوهانو په وینا درې پړاوونه او څلورمه دوره رامنځته شوې بولـو، نـو لـومړني مـواد یـا موارد یې همدا پورته حالات دي چې ادبیاتو ته یې لوری او فکر ورکړی؛ که سیاسي او ټولنیز حالات بدل شوي، په ټولنه کـې نوښـت او پرمختـګ رامنځتـه شـوی یـا پـر عکس ټولنه پر شا تمبول شوې، هر څه یې پوپنا شوي او تروړل شوي؛ نو په دې ټولو کې ادب ژبه او وسیله پاتې شوي دي. ډېر ځله داسې هم شوي چې ځینو لیکوالـو او څېړونکو یـوه ډلـه، ګونـد او یـا هـم د حکومـت مخـالف لـوري پـه شـدیدو الفـاظو، شعرونو، کیسو او آن ډرامو او سریالونو کې غندلي، خو څه وخت وروسته یې بېرته د هغوی پر ستاینې خوله خلاصه کړې چې لامـل بـه یـې یـا د فکـر همغـږي وي، یـا د هغوی واک ته رسېدل او یا هم ځینې نور ملحوظات چې دغو ټولو مواردو نېغ پر نېغه د ولس او خلکو پر روان هم اغېز ښندلی، په سلو کې تر نیمایي زیات له لیکوال سره او د لیکوال پر تبلیغاتو روان شوي او ځینو به یې ښایي په ټوله معنا منلي نه وي، خـو اغېزه به یـې هرومـرو پـرې کـړی وي، نـو دا مـوارد ټـول د ادبیـاتو تـاریخ د دورې او پړاوونو په ټاکلو کې مستقیم رول لري.

د همدغو خبرو د ښه او نسبتاً له روان دود څخه د متفاوت پوهاوي په موخـه مـا هم یو مهال همداسې یوه هڅه روانه کړه. د څېړنوالۍ رتبې لپاره مې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب پرمختیایي بهیر وڅېړه چې په هغې کې دا پورته موارد ټول دخیل وو، آن پر فولکلوري ادب یې هم پـه شـکل د اشـکالو اغېـز ښـندلی او د هغې لوری یې بدل کړی دی چې له ښه مرغه کار مې ځینو منلو څېړونکو او استادانو ته د منلو وړ شو او د ګران اسـتاد حبیـب اللـه رفیـع پـه ګـډون ډېـرو یـې د بشـپړاوي سپارښتنه وکړه. که څه هم ما له خپل منلي لارښود استاد څېړنپوه نصرالله ناصر سره له لومړي سره غوټه کړې وه چې شلمه پېـړۍ بـه ټولـه څېـړم، خـو د ملګـرو او اسـتادانو هرکلي د دې جرأت راکړ چې دویمه برخه یې هم د سرمحققی د علمي پوړ د لوړاوي

په موخه وځېړم چې له ښه‌مرغه دا نیمه پېړۍ مې هم وکښله، دا چې بشپړه به وي او که نه، خو ما په دې برخه کې خپله هڅه نه ده سپمولې.

د هغې په اړه به لومړی زما لارښود استاد، بیا تقریظ ورکوونکي او په اخره کې ګران لوستونکي قضاوت کوي، خو زما له وسې همدومره پوره وو چې په لاندې ډول مې وکړل.

په لومړي اوټلاین یا طرحه کې مې شپږ څپرکي وړاندیز کړي وو، خو د علومو اکاډمي علمي شورا په لږ بدلون سره په څلور څپرکو کې راونغاړل چې په لاندې توګه دي:

سریزه چې د څېړنې میتود، د څېړنې اهمیت او مبرمیت په کې ښودل شوی دی. ورپسې لومړی څپرکی دی چې تر ډېره د موضوع شالید یا مخینه ده چې څومره کار شوی، په څه شکل شوی او که نوی کار کېږي، نو کوم موارد باید وڅېړل شي او ما چې له کومو اثارو ګټنه کړې، کوم او څنګه دي.

په دویم څپرکي کې د شلمې پېړۍ د دویمې نیمایي د سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي حالاتو څېړنه ده او دا هغه مسایل دي چې له بده‌مرغه تر اوسه پورې د پښتو ادبیاتو په تاریخونو او اثارو کې په تفصیلي توګه نه دي څېړل شوي، یوازې لنډیزونه یې را اخیستل شوي او بیا نېغ په نېغه پر ادب بحث شوی، په داسې حال کې چې سیاسي، ټولنیز او فرهنګي حالات زموږ د ادبیاتو روح، ځمکه او منځپانګه ټاکي او دا خبره د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې ښه زباتېږي، ځکه په لنډ وخت کې موږ څو حکومتي او سیاسي بدلونونه لرو چې ځینې یې په افراطي او ځینې یې په تفریطي بڼه روان وو او همدغو بدلونونو پر ادبیاتو، فرهنګ او ادب مستقیمه اغېزه وښندله، آن تر دې چې ځینو مشهورو لیکوالو او څېړونکو بیا وروسته خپلې لیکنې د خپرونو له مخونو را ټولولې او یا یې په پټه څېرلې چې څوک یې ونه ګوري او پرې خبر نه شي او که به کوم یو په مستعار نامه لیکنې کړې وې، هغوی هم نن سبا پر هغه نامه منکر او لیکنه د ځان نه بولي، خو ډېر یې بیا پرې ویاړ کوي او دا مني که لیکنې یې شعاري هم دي، خو د نظامونو په پرځولو کې یې رول لوبولی او خپل رول یې په سمه توګه ترسره کړی دی. دا چې ولس ورسره همغږی دی او که نه، هغه بېل بحث دی، نو دا څپرکی پر همداسې بدلونونو په تفصیلي او هر اړخیزه توګه لیکل شوی چې تر نورو

متفاوت او ډېر پـراخ دی او د دې برخـې ځـوان ځېړونکـي د ادبي تحولاتـو پـه ټـول جريان خبروي.

درېيم ځپرکی د وخت په اساسي قوانينو او رسنيو کې د پښتو ژبې دريځ څېـړي چې دا هم ډېر مهم بحث دی، په دې معنا په دې نيمې پېړۍ کې مـوږ د څـو اسـاسي قوانينو، اساسي اصولو او... شاهدان يو چې هر يو يې پر بېلابېلو ارزښتونو ولاړ دی او په زياترو کې د ولس پر ځای حکومتي چارواکو، واکمنو ډلـو ټپلـو او اشخاصـو تـه ارزښت ورکړل شوی دی او چې څنګه يې غوښتي، هماغسې يې تعبير کړي دي چې دا هم په تفصيلي توګه څېـړل شـوې او تـر دې وروسـته بيـا د رسـنيو بحـث دی چـې څومره يې په پښتو دي، څومره رسنيو پښتو د يوې ژبې په توګه کارولې او څومرو يې پښتو ته ارزښت ورکړی، دا چې ملنډې پرې وهل شوي او يا يـې يـوازې پـه شـعاري توګه ساتلې، دا هم هغه موارد دي چې په دې څېړنه کې څېړل شوي، خو هېره دې نه وي چې په دغو کلونو کې په رسنيو کې هم په کافي انـدازې بـدلون راغلـی، کلـه تـر ډېره بريده له ازادۍ څخه برخمنې شوې او کله په ټوله معنـا د سانسـور پـه فلـتر کـې پرتې دي او سپن قدرې يې هم نه شو کولای.

څلورم ځپرکی بيا يـو داسـې ځپرکـی دی چـې کـابو دوه ځپرکـي ورسره مـدغم شوي، په دې معنا په دې ځپرکي کې لومړی د شلمې پېړۍ د دويمې نيمايـي د پښـتو ادب د صعودي او نزولي سير څېړنه او د عواملو سپړنه شوې، چې دا سـپړنه او څېړنـه په دوو برخو کې ده؛ يو: د شلمې پېړۍ پـه دويمـه نيمايـي کـې پـه پښـتو ادب کـې د ترسره شوي کار څېړنه او جاجونه شوې چې هـم پـه منثـوره برخـه کـې ده او هـم پـه منظومه برخه کې او دا معلومه خبره ده چې په دغه وخت کې پښـتو منظـوم او منثـور ژانرونه بدل شوي، آن پښتو شوې چې ډېر ځله يې د پښتو کېـدلو لامـل سـياسي دی، خو کله ناکله بيا دومره غورځېدلي او پيکه شوي چې نن سبا يې پر منلو هم شرمېږو.

دويم: د شلمې پېړۍ په دويمې نيمايي کې د نـامتو ادبي او فرهنګـي څېـرو او د هغو اثارو شننه او ارزونه ده چې دا ډېره سخته او ستونزمنه برخه ده او هغه په دې معنا چې د ليکوالو او اثارو غوراوی بايد پر کوم معيـار او تلـه وشي، ځکـه مـا پورتـه هـم يادونه وکړه چې په دغه وخت کې سياسي حالات خوځند وو او په خوځنـده حـالاتو کې که هماغه پېښې انځورېږي او بيا پرې قضاوت کېږي، خو په هغسې قضاوت کـې

به ځان درته یو ډول ملامت او بې قضاوته ښکاره شي او که سم قضاوت کوې، نو بیا د لیکوال د ژوند، ستونزو او حالاتو نه درک کول هم بې تفاوتي او بې ادراکي ده چې دا هم افلاطوني ځواک غواړي.

خو ما تر وسې وسې دا مسایل داسې غوره او وېشلي چې په هغې کې د ادبیاتو او ژبې کابو ټول اړخونه په نظر کې نیول شوي، لکه د داستاني لیکوالو غوراوی، د نورو منثورو ژانرونو د لیکوالو غوراوی، د ناظمانو او شاعرانو غوراوی، د فولکلور څېړونکو غوراوی او د ژبپوهانو غوراوی چې په دې کې د دودیزې او نوې ژبپوهنې تلې مهمې دي.

تر دغو بحثونو وروسته د جاجونې په توګه د پښتو ادب د پرمختیا لپاره علمي طرحه وړاندې شوې چې په اړه مې یې خپل لاسوندونه، وړاندیزونه او قضاوتونه وړاندې کړي او زما په نظر که ورته توجه وشي، نو د پښتو ادب لپاره به لاسته راوړنه او لوری ورکونه وي.

تر دغو مسایلو وروسته د څېړنې پایله، وړاندیزونه او د اخځلیکونو فهرست راغلی چې د الفباء پر اساس جوړ او وړاندې شوی دی.

نو زما دا کار د یوې پېړۍ چې هغه شلمه پېړۍ ده، کابو ټول ادبي مسایل او څېړنې رانغاړي چې لومړۍ نیمایي په لومړي ټوک او دویمه نیمایي یې په دې دویم ټوک کې راغلې، خو د دې خبرې معنا دا نه ده چې دا بشپړ کار دی او په دې برخه کې نور کار ته اړتیا نه شته؟

د ادب څېړونکو په اند هېڅ څېړنه حرف اخر نه دی او نه په ټوله معنا د یو کار حق ادا کولای شي، زه دا منم چې زما دغه کار به هم تر یوه بریده ستونزې او نیمګړتیاوې لري او ډېر داسې مهم مسایل به را څخه پاتې شوې وي او یا به مې نه وي را اخیستي چې هغه به مهم وي، خو زما په نظر به یا راته مهم نه وي ښکاره شوي او یا به مې د هغې څېړل اړین نه وي ګڼلي، نو ځکه له همدا اوسه د هغې د بشپړاوي او ورته متوجه کولو هیله او غوښتنه کوم او هیله‌من یم چې تر دې را وروسته کلونه هم د کوم مخلص څېړونکي له خوا تر وسې وسې وڅېړل شي چې هم دا لړۍ بشپړه شي او هم یې له امله نورو څېړنو ته لاره هواره شي.

**د څېړنې میتود**

هره علمي ـ څېړنيزه چاره او مسلک د موضوعاتو د څېړلو او شننو لپاره ځانګړي میتودونه او ډولونه لري چې په رڼا کې يې ياد مسایل څېړل کېږي او دا کار د دې لپاره کېږي چې هم څېړونکي ته لار معلومه وي او هم پرې کره کتونکی په اسانۍ سره د هماغه میتود او تلې په رڼا کې تول وکړای شي، خو که سره ګډوډ میتودونه او يا د يو علم میتود په بل علم کې ګډ شي، نو بيا هم څېړونکی او هم کره‌کتونکی له بې‌لارۍ سره مخامخېږي. د همدې لپاره ما هم په دې څېړنه کې له دودو میتودونو څخه چې هغه تشريحي – توضيحي او د اړتيا په صورت کې انتقادي دی، ګټنه کړې او لکه څنګه مې چې وويل په اوس وخت کې دا دوديز میتودونه دي، ځکه معياري به يې يا کمپوزېټ میتود وي او يا هم توصيفي چې دا ټول موارد په کې راځي، خو دا چې لا تر اوسه هم په تشريحي، توضيحي او انتقادي میتود باور لرو او همدا راته منلي دي، نو ما هم له همدغو لارو څخه ګټنه کړې ده.

د څېړنې ډول مې کتابتوني دی، ساحوي يا ميداني څېړنې ته مې اړتيا نه ليده او نه مې دا ټول موارد هلته موندلای شول، نو ځکه مې کتابتوني ډول غوره کړ.

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

دا څېړنه ګڼې موخې او ارزښتونه لري چې زما په نظر ځينې يې په دې ډول دي:

✍ د ادب تاريخ او ادبي تذکرې ترمنځ د بېلتون د جوتو کرښو روښانه کول او بيا نسبتاً د معياري ادب تاريخ ليکلو لپاره يوه هڅه پيلول.

✍ سره له دې چې دا اثر ادب تاريخ نه دی، بلکې د ادب تاريخ يوه برخه ده يا د ادب تاريخ لپاره مُمد اثر دی، خو لږ تر لږه د نوي او معياري ادب تاريخ ليکنې يوه هڅه ده چې د نړيوالو معيارونو په رڼا کې ترسره شوې او هيله ده چې معياري ادب تاريخونه وزېږوي.

✍ په ټولو ادبي او فرهنګي څېړنو کې سياسي، ټولنيز او اقتصادي حالات په سطحي او عادي توګه څېړل کېږي، په داسې حال کې چې د فرهنګ او ادب په څېړلو کې دا مسایل تر ټولو زيات مهم او اړين دي او همدا مسایل د ادب لوری او منزل ټاکي، لوړې او ژورې يې را په ګوته کوي او په اړه يې قضاوتونو ته مو اړ باسي. په دې اثر کې هم يوه نوې او تفصيلي هڅه شوې، طمعه ده چې د دې برخې ځانګه‌وال يې په دقيقه توګه وارزوي.

✍ د شلمې پېړۍ په ادب او ادبي څېړنو کې په کافي اندازې لوړې او ځوړې تر سترګو کېږي، خو له بده مرغه تر اوسه پورې په منظمه او اکاډمیکه توګه یوازې د همدې پېړۍ ادبیات څېړل شوي نه وو چې دا هڅه د همدغې تشې ډکون او د یوې نوې لارې بنسټ ایښودل و.

✍ ځوان لیکوال او څېړونکي حق لري چې د خپلو مشرانو استادانو، څېړونکو او لیکوالو پر حقایقو، کارونو او ځینو مجبوریتونو خبر شي او بیا یې په اړه لیکنې او قضاوتونه وکړي. له بده مرغه تر اوسه پورې زموږ قضاوتونه په بې پرې توګه نه کېږي او ځینې ځوانان خو لا د پنځوسو کالو پخواني حالات هم له اوسنۍ کړکۍ نه، څېړي چې په څېړنه کې دا تر ټولو ناکامه او بې خونده تجربه ده، نو دا اثر به دا مسایل هم تر وسې وسې حل کاندي.

✍ زما په نظر ما د دغه اثر په کښلو سره وکولای شول چې د ډېرو ادبي موضوعاتو څېړلو ته د لیکوالو او څېړونکو پام را واړوم او هغوی آن دې ته متوجه کړم چې زما اثر هم په خپل ذات کې د دودپالنې یوه ستونزه او تشه لري چې بایډ ډکه شي، که دا کار د عمل جامه واغوندي، نو دغه اثر به خپل مسؤولیت ادا کړی وي او بیا به نو زما خوا هم ارامه شوې وي او که داسې ونه شول، نو زما رواني ځور به هم روان وي.

نو دغه اثر دا او دې ته ورته ځینې نور ارزښتونه هم لري چې د لوستلو پر مهال به لوستونکو ته جوت شي، خو په ورته وخت کې به خپلې ستونزې او نیمګړتیاوې هم لري چې ښایي ځینو ته یې لاملونه او لاسوندونه هم ولرم، خو نه غواړم چې دلته پرې بحث وکړم، ځکه بیا به خبره ډېره اوږده شي او په حقیقت کې به مې له لوستونکو هم د کره کتنې او نیوکو حق اخیستی وي، خو طمعه ده چې د نسبي بشپړولو لپاره یې رانه خپلې مشورې، رغوونکې نیوکې او وړاندیزونه ونه سپموئ.

په تګ کې اړینه بولم چې له خپل درانه او قدرمن لارښود استاد څېړنپوه نصرالله ناصر څخه هم د زړه له کومې مننه وکړم چې د کار د ترسره کولو لپاره یې حوالې او مأخذونه په واک کې راکړي، وخت پر وخت یې زما کار لیدلی، ناسم ځایونه یې را سم او په ځینو برخو کې یې مشورې راکړي چې د پېرزوینې له امله یې نن دا کتاب ستاسې د لاسونو ورغوي ښکلوي.

د دې ترڅنګ له ښاغلو څېړنپوه مولاجان تڼیوال، څېړنپـوه دوکتـور عبـدالظاهر شکیب، څېړنپوه نعمت الله اندړ او څېړنپوه عبدالشکور قیومي څخه هم د زړه له تلـه مننه کوم چې زما دغه اثر یې په دقیقه توګه ولوسـت، ښـې او پـر ځـای سپارښـتنې او مشورې یې راکړې او په اخر کې یې خپل علمي تقریظونه هم ورسره ملـه کـړل چـې ځان یې د احسان پورووړی او منندوی بولم.